euaa
EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

# د کورنی
# موندل
# (بالغ)

---

# فورمه

دا لاسوند په 2025 کال کې بشپړ شو
نه د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د دې ادارې په استازیتوب عمل کوي، په دې یادښت کې د شاملو معلوماتو د احتمالي کارونې مسؤل نه ګڼل کېږي.
لوکزامبورګ: د اروپايي اتحاديې د خپرونو دفتر، 2025

PDF ISBN 978-92-9410-790-9 doi:10.2847/9517251 BZ-01-25-034-EN-N

© د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحاديې اداره (EUAA)، 2025
د سرچينې د يادولو په شرط د بيا خپرولو اجازه شته.

| | |
|---|---|
| **د اروپايي اتحاديې+ هېواد نوم** | |
| **د ملي اداري پته** | |
| **د اروپايي اتحاديې+ هېواد ځانګړي معلومات چې دا فورمه څنګه او چېرې وسپارل شي** | دا برخه د اروپايي اتحاديې + هیوادونو لپاره دی، تر څو د دې فورم د سپارلو اړوند لازمي کړنلارې پکې شاملې کړي.<br>دا فورمه باید څنګه وسپارل شي؟ کوم پته ته؟ تر کومې نېټې پورې؟ |

# د کورنۍ د موندلو فورمه (بالغ)

## ولې ماته دا فورمه راکړل شوې ده؟

د دې هېواد چارواکو دا فورمه ([1]) تاسو ته درکړې ده، ځکه چې تاسو د نړيوال خونديتوب غوښتنه کړې ده او ويلي مو دي چې د اروپايي اتحاديې په يوه غړي هېواد يا يو ترلي هېواد (چې ورته د اروپايي اتحاديې+ هېوادونه ويل کېږي) کې د کورنۍ يو غړی لرئ.

> بلجيم، بلغاريا، چيک، جرمني، ايستونيا، ايرلنډ، يونان، هسپانيا، فرانسه، کروشيا، ايټاليا، قبرس، لاټويا، ليتوانيا، لوکزامبورګ، هنګري، مالټا، هالنډ، اتريش، پولنډ، پرتګال، رومانيا، سلووينا، سلواکيا، فنلنډ او سويډن. څلور ترلي هېوادونه آيسلنډ، ليټن ستاين، ناروې او سويزرلنډ دي.

هغه معلومات چې تاسو يې په دې فورمه کې ورکوئ، د دې هېواد له چارواکو سره مرسته کوي چې ستاسو د کورنۍ غړي ومومي، ستاسو قضيې ته لومړيتوب ورکړي او هغه اروپايي اتحاديې+ هېواد مالوم کړي چې بايد ستاسو غوښتنليک وڅېړي. ځکه چې ستاسو د کورنۍ غړي د اروپايي اتحاديې+ په بل هېواد کې دي، نو هغه هېواد چې ستاسو د کورنۍ غړی پکې شته، ښايي ستاسو د غوښتنليک د څېړلو مسؤول وي.

**مهم.** که تاسو د دې فورمې په ډکولو کې کومې مرستې ته اړتيا لرئ، نو چارواکو ته خبر ورکړئ.

## ولې له ما څخه غوښتل شوي چې دا فورمه ډکه کړم؟

د دې هېواد چارواکي بايد پوه شي چې آيا تاسو د اروپايي اتحاديې+ هېوادونو په کوم يوه کې د کورنۍ غړي لرئ که نه. که داسې وي، هغه هېواد چې دوی پکې اوسي ښايي ستاسو د غوښتنليک د څېړلو مسؤول وي.

همدارنګه د دې هېواد چارواکي هم غواړي ستاسو سره مرسته وکړي چې که وغواړئ د کورنۍ له خپلو غړو سره، چې د اروپايي اتحاديې+ هېوادونو کې دي، يو ځای شئ. که تاسو غواړئ د خپلې کورنۍ له غړي سره يوځای شئ، مور ته خبر راکړئ او مور به وګورو چې ايا دا ممکنه ده او هڅه به وکړو چې دا کار ترسره شي. که تاسو نه غواړئ يوځای شئ، نو مهرباني وکړئ ژر تر ژره مور ته خبر راکړئ.

([1]) PDF: BZ-01-25-006-EN-N and Print BZ-01-25-006-EN-C.

## زه له چا سره یوځای کېدای شم؟

تاسو کولی شئ د کورنۍ له هغه غړي سره یوځای شئ چې د اروپايي اتحادیې+ هېواد کې اوسي. دا کسان عبارت دي له:

- ستاسو ښځه یا خاوند – دې کس ته مېرمن یا مېړه (spouse) ویل کېږي؛
- ستاسو ناواده ملګرى/ملګرې په یوه باثباته اړیکه کې([2])؛
- ستاسو ماشوم چې عمر یې تر 18 کلونو کم وي([3])؛

همدارنګه تاسو له هغه کس سره یوځای کېدای شئ چې ستاسو پاملرنې ته اړتیا لري یا هغه کس چې د لاندې مواردو له امله تاسو د پاملرنې لپاره وربانديې متکي یاست:

- امیندواري؛
- نوی زېږېدلی ماشوم درلودل؛
- شدیده رواني ناروغي؛
- شدیده فزیکي ناروغي؛
- شدید معلولیت؛
- شدیده رواني صدمه؛
- زړښت.

دا کس کېدای شي:

- ستاسو ماشوم (نابالغ یا بالغ) وي؛
- ستاسي خور یا ورور وي؛
- ستاسي والدین وي.

**که تاسو د اروپايي اتحادیې+ په یو هېواد کې د کورنۍ غړی لرئ، نو تاسو لاندې حقونه لرئ.**

- تاسو کولای شئ له هغو اشخاصو او ادارو څخه معلومات وغواړئ چې کولای شي د دې فورمې په ډکولو کې ستاسو سره مرسته وکړي.
- تاسو کولای شئ د ملي، نړیوالو او نورو اړوندو سازمانونو په اړه معلومات وغواړئ چې کولای شي ستاسو د کورنۍ د غړو په پېژندلو او موندلو کې مرسته وکړي.
- یو مرکه کولای شي تنظیم شي تر څو د اروپايي اتحادیې+ هغه هېواد وټاکل شي چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک د څېړلو مسؤول دی، مګر دا چې د مرکې د نه ترسره کولو لپاره کوم دلیل موجود وي.
- تاسو کولی شئ هر هغه معلومات وړاندې کړئ چې د کورنۍ د غړو د شتون په تثبیت کې مرسته کوي، که په شفاهي ډول وي یا د اسنادو له لارې.
- تاسو کولی شئ د خپلې قضیې په اړه د لا زیاتو معلوماتو غوښتنه وکړئ.

([2]) که د اروپايي اتحادیې+ هېواد قانون یا عملي تګلاره د ناواده شوي جوړې د دریمو هېوادونو د اتباعو په اړه د خپل قانون له مخې د واده شوو جوړو سره په ورته ډول چلند کوي.

([3]) دا ستاسو خپل بیولوژیکي یا منل شوی ماشوم ته اشاره کوي.

## زه باید په دې فورمه کې څه شی شامل کړم؟

**د دې لپاره چې د دې هېواد چارواکي وکولای شي تاسو له خپلو د کورنۍ له غړو سره یوځای کړي، تاسو باید د هغوی په اړه تر ممکنه حده ډېر معلومات زموږ سره شریک کړئ.** په دې کې ستاسو د کورنۍ د غړي یا هغه کس په اړه بنسټیز معلومات شامل دي چې تاسو ورسره د متقابلې پاملرنې اړیکه لرئ او په اروپايي اتحادیه+ هېواد کې اوسي، لکه:

- د هغوی شخصي معلومات؛
- هغوی دا مهال چېرې ژوند کوي؛
- د هغوی د اړیکې معلومات؛
- په هغه هېواد کې د هغوی د قانوني حالت په اړه معلومات (که هغوی د پناه غوښتونکي حیثیت ولري، د استوګنې اجازه ولري، یا د پخواني نړیوال خوندیتوب د حالت پر بنسټ د هغه هېواد تابعیت ولري)؛
- هر ډول اسناد یا شواهد چې ستاسو اړیکه ثابت کوي.

### ولې دا معلومات مهم دي؟

هر څومره چې تاسو ډېر معلومات ورکړئ، هومره د دې هېواد د چارواکو لپاره به اسانه وي چې د هغه هېواد له چارواکو سره اړیکه ونیسي چې ستاسو د کورنۍ غړی پکښې دی، ستاسو اړیکه تایید کړي او تاسو ژر تر ژره سره یوځای کړي.

کېدای شي تاسو یوې مرکې ته وبلل شئ یا له تاسو څخه نورې پوښتنې وشي تر څو د اړیکې او د هغه کس د اوسېدو ځای په اړه نور معلومات ترلاسه شي.

که تاسو ټول معلومات ونه لرئ، نو اندېښنه مه کوئ. هر څومره چې کولای شئ معلومات ورکړئ او د دې هېواد چارواکي به خپله هڅه وکړي چې بهیر پیل کړي. که تاسو کوم اسناد لرئ، نو مهرباني وکړئ ژر تر ژره یې د دې هېواد چارواکو ته وسپارئ.

## دا فورمه څنګه ډکه کړم

**1 ګام.** د فورمې لومړۍ برخه ډکه کړئ. په دې برخه کې ستاسو شخصي معلومات راټولېږي.

**2 ګام.** د کورنۍ د هرغړي لپاره د فورمې هغه برخه(برخې) ډکې کړئ چې ستاسو د کورنۍ له غړی(غړو) سره تړاو لري.

- مېرمن/مېړه یا ناواده ملګری/ملګرې (دوهمه برخه).
- نابالغ ماشوم (دریمه برخه).

  که تاسو د اروپايي اتحادیې+ هېوادونو کې څو ماشومان لرئ، نو د هر ماشوم لپاره د فورمې دا برخه ډکه کړئ.
- متکي کس (څلورمه برخه).

  دا برخه په هغه صورت کې ډکه کړئ که چېرې:
  - ستاسو (بالغ) ماشوم، ورور/خور یا مور/پلار ستاسو پاملرنې ته اړتیا لري ځکه چې هغوی په زیانمن حالت کې وي؛
  - تاسو په زیان‌من حالت کې یاست او د خپل (بالغ) ماشوم، ورور/خور یا مور/پلار پر پاملرنې متکي یاست.

**ګام 3.** خپل د کورنۍ شجره (پنځمه برخه) رسم کړئ تر څو د کورنۍ ټول غړي وښيي. دا کار د کورنۍ د راتلونکو موندلو هڅو لپاره ګټور کېدای شي یا په دې پوهېدو کې مرسته کوي چې ښايي نور کسان هم وي چې ورسره د بیا یوځای کېدو بهیر پیلېدای شي.

## څوک کولای شي د دې فورمې په ډکولو کې زما سره مرسته وکړي؟

که تاسو د حقوقي مرستې په ګډون، د دې فورمې په ډکولو کې کومې مرستې ته اړتیا لرئ، نو تاسو يې غوښتنه کولای شئ. که تاسو په کوم څه نه پوهېږئ، نو کولای شئ د دې هېواد له چارواکو څخه مرسته وغواړئ. تاسو کولای شئ د مسؤولیت ټاکلو د بهیر په اړه په معلوماتي پاڼه کې د حقوقي سلاکارانو د ډلې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ. همدارنګه تاسو کولای شئ د فورمې د ډکولو لپاره د ژبنۍ مرستې غوښتنه وکړئ.

د اروپايي اتحاديې+ هېواد ځانګړي معلومات د هغو «اشخاصو» او «بنسټونو» په اړه چې د دې ټیمپلیټ د ډکولو په برخه کې مرسته او «حقوقي مشوره» برابروي.

## زه څنګه کولای شم د خپلې کورنۍ له غړي سره یوځای شم؟

- لومړی به د دې هېواد چارواکي هغه معلومات وڅېړي چې تاسو يې وړاندې کوئ. کېدای شي هغوی تاسو بلې مرکې ته هم راوبلي.
- که ممکنه وي، د دې هېواد چارواکي به د اروپايي اتحاديې+ هغه هېواد ته غوښتنه ولېږي چې ستاسو د کورنۍ غړی پکې اوسي.

**مهم**. تاسو او ستاسو د کورنۍ غړی دواړه باید د بیا یوځای کېدو سره موافقه ولرئ. که له تاسو څخه یو کس «نه» ووايي، نو د دې هېواد چارواکي به بهیر ته دوام ورنه کړي. که تاسو موافقه وکړئ، نو له تاسو څخه به وغوښتل شي چې د بیا یوځای کېدو لپاره خپل رسمي لیکلي رضایت وړاندې کړئ. تاسو باید خپل رضایت په بله فورمه کې وړاندې کړئ.

- د هغه هېواد چارواکي چې ستاسو د کورنۍ غړی پکې اوسي، غوښتنه به وڅېړي او اسناد به وارزوي.
- که هغوی دا ومني، نو د دې هېواد چارواکي به تاسو هغه هېواد ته ولېږدوي تر څو د خپلې کورنۍ له غړي سره یوځای شئ.

د دې هېواد چارواکي به تاسو له هېڅ کس سره ستاسو د خوښې پر خلاف یوځای نه کړي. رضایت دا معنی لري چې تاسو دواړه موافقه لرئ چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک په هغه هېواد کې وڅېړل شي چې ستاسو د کورنۍ غړی یا متکي کس پکښې اوسي. که تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړی رضایت ورنه کړي، د دې هېواد چارواکي به د بیا یوځای کېدو بهیر پیل نه کړي. تاسو کولای شئ هر وخت مخکې له دې چې د لېږد پرېکړه وشي خپل رضایت بېرته واخلئ.

په دواړو هېوادونو کې د کورنۍ د بیا یوځای کېدو قضیو ته لومړیتوب ورکول کېږي. دا په دې مانا چې که ستاسو په قضیه کې د کورنۍ د بیا یوځای کېدو بهیر پیلېدای شي، نو چارواکي به يې تر ممکنه حده ژر تر ژره وڅېړي.

### هغه څه چې تاسو باید ورباندې پوه شئ

- تاسو کولی شئ هر وخت خپل نظر بدل کړئ او مخکې له دې چې د لېږد پرېکړه وشي، خپل رضایت بېرته واخلئ.
- تاسو اړتیا نه لرئ چې د خپلې کورنۍ له غړو سره د بیا یوځای کېدو لپاره چا ته پیسې ورکړئ – لګښتونه به د چارواکو له خوا ورکړل شي.
- د کورنۍ د بیا یوځای کېدو قضیو ته لومړیتوب ورکول کېږي، نو چارواکي به ستاسو قضیه تر ممکنه حده ژر تر ژره وڅېړي.

### بیا یوځای کېدل په څه معنی دی

- ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک به په هغه هېواد کې وڅېړل شي چې ستاسو د کورنۍ غړی په قانوني ډول پکې اوسي ([4]).

بیا یوځای کېدل دا معنی نه لري چې تاسو به په هغه هېواد کې د استوګنې اجازه ترلاسه کړئ.

## زه نه پوهېږم چې زما د کورنۍ غړی چېرې دی. آيا تاسو زما سره مرسته کولای شئ؟

که تاسو پوهېږئ چې ستاسو د کورنۍ غړی د اروپايي اتحاديې+ هیواد کې وي مګر تاسو ډاډه نه یاست چې دوی چېري دي، تاسو کولای شئ د کورنۍ موندلو سازمانونو څخه د ملاتړ غوښتنه وکړئ چې کولای شي ستاسو د کورنۍ د غړي موندلو کې درسره مرسته وکړي. که تاسو دا ډول ملاتړ ته اړتیا لرئ، نو د دې هیواد چارواکو ته ووایاست.

> د اروپايي اتحاديې+ هېواد ځانګړي معلومات د هغو سازمانونو په اړه چې د کورنۍ د موندنې خدمتونه وړاندې کوي.

## هغه معلومات چې زه يې وړاندې کوم څنګه به اداره شي؟

هغه معلومات چې تاسو يې ورکوئ په محرمیت سره به چلند ورسره وشي. دا معلومات به هېڅکله هم له داسې هېواد سره شریک نه شي چې د اروپايي اتحاديې+ هېوادونو په لست کې نه وي (د دې فورم د 1م مخ وګورئ)، او نه به هم ستاسو یا ستاسو د کورنۍ د غړي د اصلي هېواد یا د پخواني عادي استوګنې له هېواد سره شریک شي. معلومات به په خوندي ډول د اروپايي اتحاديې+ هغه هېواد ته ولېږل شي چې ستاسو د کورنۍ غړی پکې شتون لري، تر څو د هغه هېواد چارواکي وکولای شي وټاکي چې ستاسو اړیکه د کورنۍ د یوځای کېدو لپاره وړ ده که نه. که اړتیا وي، ستاسو د کورنۍ له غړي سره به د چارواکو یا سازمانونو له لورې د تعقیبي پوښتنو لپاره اړیکه ونیول شي.

([4]) قانوني استوګنه په دې معنی ده چې هغوی په یو هېواد کې د ننوتلو، پاتې کېدو یا استوګنې شرایط پوره کړي وي.

| (لومړی برخه) د غوښتونکي شخصي معلومات | |
|---|---|
| **د قضیې شمېره:** | |
| نوم | |
| تخلص | |
| عمر | |
| جنس | |
| د زېږېدلو نېټه (کال/میاشت/ورځ) | |
| د زېږېدلو ځای | |
| له اصلي هیواد څخه د وتلو نېټه | |
| تابعیت/تابعیتونه | |
| پته/استوګنځای | |
| د اړیکو جزئیات (د برېښنالیک پته، د ټولنیزو رسنیو حساب، د تلیفون شمېره) | |
| ☐ **زه تاییدوم چې زما د کورنۍ یو غړی د اروپايي اتحادیې+ په یو هیواد کې ژوند کوي.** | |
| زما د کورنۍ غړی (ډېر انتخابونه کولای شئ) | ☐ زما میړه/مېرمن یا نا واده شوی ملګری/ملګرې دی (دوهمه برخه)<br>☐ نابالغ ماشوم دی (دریمه برخه)<br>☐ هغه شخص دی چې زما پر مرستې متکي دی یا زه د هغه/هغې پر مرستې متکي یم (څلورمه برخه) |
| نور اړوند معلومات: | |
| **د غوښتونکي نېټه او لاسلیک** | |

## دوهمه برخه د میره/مېرمني یا نا واده شوي ملګري شخصي معلومات

| | |
|---|---|
| نوم | |
| تخلص | |
| نور کارول شوي نومونه | |
| عمر | |
| جنس | |
| د زیږېدلو نېټه (کال/میاشت/ورځ) | |
| د زیږېدلو ځای | |
| د واده ځای یا هغه ځای چې اړیکه پکې جوړه شوې وه | |
| د واده یا د اړیکو پیل نېټه | |
| د واده یا ملګرتیا ډول (ډېر انتخابونه کولای شئ) | ☐ مذهبي مراسم<br>☐ مدني ثبت<br>☐ ثبت شوی مدني ملګرتیا<br>☐ نور (مهرباني وکړئ مشخص یې کړئ): |
| د اروپايي اتحادیې+ هېوادونو کې اوسنی یا وروستی پېژندل شوی ځای (هیواد، ښار) | |
| د اروپايي اتحادیې+ هیواد کې د شخص د استوګنې حالت | ☐ د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي<br>☐ د نړیوال خوندیتوب ګټه اخیستونکی<br>☐ اوږدمهاله استوګنه<br>☐ اوسېدونکی<br>☐ تبعه<br>☐ معلوم نه دی |
| له اصلي هیواد څخه د وتلو نېټه | |
| تابعیت/تابعیتونه | |
| شخصي شمېره / د قضیې شمېره (که د اروپايي اتحادیې+ هېواد کې د پېژندنې شمېره موجوده وي) | |
| پته/استوګنځای | |
| د اړیکو جزئیات (د برېښنالیک پته، د ټولنیزو رسنیو حساب، د تلیفون شمېره) | |

**د بیا یوځای کېدو لپاره چمتوالی**

آیا غواړې چې له دې کس سره یوځای شئ؟

☐ هو، زه غواړم چې ورسره یوځای شم.

**په دې حالت کې به تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي مکلف وي چې په لیکلي ډول خپل رسمي رضایت ورکړئ. رسمي رضایت به په جلا فورم کې غوښتل کېږي.**

☐ نه، زه نه غواړم چې ورسره یوځای شم.

که تاسو نه غواړئ چې سره یوځای شئ، تاسو کولای شئ تشریح کړئ چې ولې. دا معلومات به په محرم ډول وساتل شي.

| |
|---|
| **د احتمالي زيان‌منني يا بشري دلايلو په اړه اړوند معلومات** |
| تاسو کولای شئ دلته هر هغه اړوند معلومات ياد کړئ چې د چارواکو لپاره مهم وي تر څو ستاسو د کورنۍ د غړي په اړه ترې خبر وي (لکه هر ډول زيان‌مننه، ځانګړې اړتياوې يا بشري دلايل). |
| **وروستی ځل مو کله او چېرې له دې کس سره اړیکه درلوده؟** |
| |
| **آيا بل څوک شته چې ستاسو د کورنۍ د غړي د ځای په اړه معلومات ولري؟ که داسې وي، مهرباني وکړئ د دوی د اړيکو جزئيات وړاندې کړئ. آيا تاسو له دې کس سره اړيکه نيولې ده؟** |
| |
| **آيا تاسو د دې کس د موندلو لپاره له کوم سازمان سره اړیکه نیولې ده؟ که ځواب هو وي، مهرباني وکړئ وضاحت ورکړئ (د اداري نوم، د موندنې حالت / پایله).** |
| |
| **هغه اسناد/شواهد تشريح کړئ چې ستاسو اړيکه ثابتوي.**<br>د مثال په توګه، د واده سند، د زیږېدلو سند، د هويت اسنادو کاپي، د کورنۍ د غړي عکسونه او نور. تاسو بايد دا اسناد يا دا شواهد وسپارئ. |
| |
| **نور اړوند معلومات:** |
| |

| (دریمه برخه) د نابالغ ماشوم شخصي معلومات | |
|---|---|
| که تاسو د اروپايي اتحادیې+ هېوادونو کې څو ماشومان لرئ، د هر ماشوم لپاره د نوې برخې د جوړولو لپاره د "*Duplicate section*" تنۍ باندې کلیک کړئ. | |
| نوم | |
| تخلص | |
| نور کارول شوي نومونه | |
| عمر | |
| جنس | |
| د زیږېدلو نېټه (کال/میاشت/ورځ) | |
| د زېږېدلو ځای | |
| د اروپايي اتحادیې+ هېوادونو کې اوسنی یا وروستی پېژندل شوی ځای (هیواد، ښار) | |
| د اروپايي اتحادیې+ هیواد کې د شخص د استوګنې حالت | ☐ د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي<br>☐ د نړیوال خوندیتوب ګټه اخیستونکی<br>☐ اوږدمهاله استوګنه<br>☐ اوسېدونکی<br>☐ تبعه<br>☐ معلوم نه دی |
| له اصلي هیواد څخه د وتلو نېټه | |
| تابعیت/تابعیتونه | |
| شخصي شمېره / د قضیې شمېره (که د اروپايي اتحادیې+ هېواد کې د پېژندنې شمېره موجوده وي) | |
| پته/استوګنځای | |
| د اړیکو جزئیات (د برېښنالیک پته، د ټولنیزو رسنیو حساب، د تلیفون شمېره) | |
| **د سرپرست د اړیکو معلومات، که موجود وي** | |
| نوم | |
| تخلص | |
| د تلیفون شمېره | |
| برېښنالیک | |
| **د بیا یوځای کېدو لپاره چمتوالی** | |
| آیا غواړې چې له دې کس سره یوځای شئ؟<br>☐ هو، زه غواړم چې ورسره یوځای شم.<br>**په دې حالت کې به تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي مکلف وي چې په لیکلي ډول خپل رسمي رضایت ورکړئ. رسمي رضایت به په جلا فورم کې غوښتل کېږي.**<br>☐ نه، زه نه غواړم چې ورسره یوځای شم.<br>که تاسو نه غواړئ چې سره یوځای شئ، تاسو کولای شئ تشریح کړئ چې ولې. دا معلومات به په محرم ډول وساتل شي. | |

| |
|---|
| **د احتمالي زيان‌منني يا بشري دلايلو په اړه اړوند معلومات** |
| تاسو کولای شئ دلته هر هغه اړوند معلومات ياد کړئ چې د چارواکو لپاره مهم وي تر څو ستاسو د کورنۍ د غړي په اړه ترې خبر وي (لکه هر ډول زيان‌منونه، ځانګړې اړتياوې يا بشري دلايل). |
| **وروستی ځل مو کله او چيرې له دې کس سره اړيکه درلوده؟** |
| |
| **آيا بل څوک شته چې ستاسو د کورنۍ د غړي د ځای په اړه معلومات ولري؟ که داسې وي، مهرباني وکړئ د دوی د اړيکو جزئيات وړاندې کړئ. آيا تاسو له دې کس سره اړيکه نيولې ده؟** |
| |
| **آيا تاسو د دې کس د موندلو لپاره له کوم سازمان سره اړيکه نيولې ده؟ که ځواب هو وي، مهرباني وکړئ وضاحت ورکړئ (د ادارې نوم، د موندنې حالت / پايله).** |
| |
| **هغه اسناد/شواهد تشريح کړئ چې ستاسو اړيکه ثابتوي.**<br>د مثال په توګه، د واده سند، د زيږېدلو سند، د هويت اسنادو کاپي، د کورنۍ د غړي عکسونه او نور. تاسو بايد دا اسناد يا دا شواهد وسپارئ. |
| |
| **نور اړوند معلومات:** |
| |

دوه اړخيزه برخه

## څلورمه برخه. د يو متکي شخص اړوند شخصي معلومات

که تاسو له يوه څخه زيات داسې ماشومان، ورونه/خويندې يا والدين لرئ چې تاسو پرې متکي ياست يا هغوی پر تاسو متکي دي، د هر فرد لپاره د نوي برخې د جوړولو لپاره د "Duplicate section" تڼۍ کليک کړئ.

| | |
|---|---|
| د شخص سره اړيکه | ☐ ماشوم (بالغ)<br>☐ ورور/خور<br>☐ مور او پلار |
| **مهرباني وکړئ انتخاب يې کړئ:**<br>☐ دا شخص زما پر مرسته متکي دی.<br>☐ زه د دې شخص پر مرسته متکي يم. | |
| نوم | |
| تخلص | |
| نور کارول شوي نومونه | |
| عمر | |
| جنس | |
| د زیږېدلو نېټه (کال/میاشت/ورځ) | |
| د زیږېدلو ځای | |
| د متکي اړيکې ډول (ډېر انتخابونه کولای شئ) | هغه دليل انتخاب کړئ چې ولې دا شخص ستاسو پر مرستې متکي دی، يا ولې تاسو د دې شخص پر مرستې متکي ياست:<br>☐ اميندواري<br>☐ د نوي زيږيدلي ماشوم پالنه<br>☐ په جدي رواني ناروغۍ اخته دی<br>☐ له جدي فزيکي ناروغۍ څخه رنځ وړي<br>☐ شديد معلوليت<br>☐ شديده رواني صدمه<br>☐ زړښت<br>☐ نور (مهرباني وکړئ مشخص يې کړئ): |
| د اروپايي اتحاديې+ هېوادونو کې اوسنی موقعيت (هيواد، ښار) | |
| د اروپايي اتحاديې+ هيواد کې د شخص د استوګنې حالت | ☐ د نړيوال خونديتوب غوښتونکي<br>☐ د نړيوال خونديتوب ګټه اخيستونکی<br>☐ اوږدمهاله استوګنه<br>☐ اوسېدونکی<br>☐ تبعه<br>☐ معلوم نه دی |
| له اصلي هيواد څخه د وتلو نېټه | |
| تابعيت/تابعيتونه | |
| شخصي شمېره / د قضيې شمېره (که د اروپايي اتحاديې+ هېواد کې د پېژندنې شمېره موجوده وي) | |
| پته/استوګنځای | |

| | |
|---|---|
| د اړيکو جزئيات (د برېښناليک پته، د ټولنيزو رسنيو حساب، د تليفون شمېره) | |

**د بيا يوځای کېدو لپاره چمتوالی**

آيا غواړې چې له دې کس سره يوځای شئ؟

☐ هو، زه غواړم چې ورسره يوځای شم.

**په دې حالت کې به تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي مکلف وي چې په ليکلي ډول خپل رسمي رضايت ورکړئ. رسمي رضايت به په جلا فورم کې غوښتل کېږي.**

☐ نه، زه نه غواړم چې ورسره يوځای شم.

که تاسو نه غواړئ چې سره يوځای شئ، تاسو کولای شئ تشريح کړئ چې ولې. دا معلومات به په محرم ډول وساتل شي.

**د احتمالي زيانمننې يا بشري دلايلو په اړه اړوند معلومات**

تاسو کولای شئ دلته هر هغه اړوند معلومات ياد کړئ چې د چارواکو لپاره مهم وي تر څو ستاسو د کورنۍ د غړي په اړه ترې خبر وي (لکه هر ډول زيانمننه، ځانګړې اړتياوې يا بشري دلايل).

**وروستی ځل مو کله او چېرې له دې کس سره اړيکه درلوده؟**

**آيا بل څوک شته چې ستاسو د کورنۍ د غړي د ځای په اړه معلومات ولري؟ که داسې وي، مهرباني وکړئ د دوی د اړيکو جزئيات وړاندې کړئ. آيا تاسو له دې کس سره اړيکه نيولې ده؟**

**آيا تاسو د دې کس د موندلو لپاره له کوم سازمان سره اړيکه نيولې ده؟ که ځواب هو وي، مهرباني وکړئ وضاحت ورکړئ (د ادارې نوم، د موندنې حالت / پايله).**

**هغه اسناد/شواهد تشريح کړئ چې ستاسو اړيکه ثابتوي.**


د مثال په توګه، د واده سند، د زېږېدلو سند، د هويت اسنادو کاپي، د کورنۍ د غړي عکسونه او نور. تاسو بايد دا اسناد يا دا شواهد وسپارئ.

**نور اړوند معلومات:**

دوه اړخيزه برخه

## پنځمه برخه. د کورنۍ شجره (اختياري)

تاسو کولای شئ د خپلې کورنۍ شجره په لاندې بکس کې رسم کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپلې کورنۍ نږدې غړي په ګوته کوئ. ستاسو د کورنۍ نږدې غړي ستاسو میره او ښځه، ستاسو ماشوم یا ماشومان، ستاسو مور او پلار او ستاسو ورونه/خویندې دي. که امکان ولري، نو دا په ګوته کړئ چې ستاسو د کورنۍ غړی اوس مهال په کوم هیواد کې ژوند کوي. ستاسو د کورنۍ د شجرې یوه بیلګه په لاندې انځور کې ښودل شوې ده.




**په دې برخه کې د کورنۍ د نورو غړو په اړه معلومات داخل کړئ.**